د افغانستان اسلامي امارت

د کانونو او پټرولیم وزارت

# د ساختماني موادو د کان کیندني لارښود

کال

۱۴۴۷ هـ ق / ۱۴۰۴ هـ ش

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين و الصلاة و السلام على سيد المرسلين و على آله و اصحابه اجمعين.

Islamic Emirate of Afghanistan
وزارت معادن و پترولیم د کانونو او پترولیم وزارت
امارت اسلامی افغانستان
MINISTRY OF MINES AND PETROLEUM
ریاست دفتر مقام
14 00

# د ساختمانی موادو د کان کیندنې لارښود

## د مندرجاتو فهرست

### لومړی فصل

### عمومي حکمونه


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| لومړی ماده : | د ترتیب منظور | ۱ |
| دویمه ماده : | اختصاري نومونه | ۱ |
| دریمه ماده : | اصطلاحات | ۱ |
| څلورمه ماده : | د تطبیق ساحه او مرجع | ۳ |
| پنځمه ماده : | د ساختماني موادو مالکیت | ۴ |


### دویم فصل

### دندې او مسؤلیتونه


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| شپږمه ماده : | د کانونو ولایتي ریاست دندې او مسؤلیتونه | ۴ |
| اوومه ماده : | د مرکزي ریاستونو مکلفیتونه | ۵ |


### دریم فصل

### د داوطلبی پروسه او کمېټې


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| اتمه ماده : | داوطلبي | ۶ |
| نهمه ماده : | د داوطلبي فسخه اود داوطلب محرومیت | ۷ |
| لسمه ماده : | د افرگشايي کمېټه | ۸ |
| یوولسمه ماده : | د ارزیابی کمېټه | ۸ |
| دوولسمه ماده : | افرگشايي او ارزیابی تر سره کول | ۸ |

## څلورم فصل

## د جواز او چکپاینټ طی مراحل ، حقوق ، تخصیصات او شراط


دیارلسمه ماده : د جواز او د چکپاینټ قرارداد ورکړه ..........................................۹
څوارلسمه ماده : عام المنفعه پروژې..........................................................۱۰
پنځه لسمه ماده : د خلکو لخوا د ساختماني موادو استخراج.....................................۱۰
شپاړسمه ماده : د ساحاتو او محلونو تخصیص ....................................................۱۰
اووه لسمه ماده : په شروطونو برابروالی.........................................................۱۱
اتلسمه ماده : د جواز لرونکي او چکپاینټ قرارداد لرونکي حقوق.................................۱۱
نوولسمه ماده : د جواز او چکپاینټ قرارداد شرایط..............................................۱۲
شلمه ماده : د جواز او چکپاینټ قرارداد ماهیت او مشخصات.....................................۱۳
یو ویشتمه ماده : د جواز او چکپاینټ قرارداد ثبت او صدور........................................۱۴
دوه ویشتمه ماده مساحات ..........................................................................۱۴
دری ویشتمه ماده : د ساحې تبدیلی او پراختیا...................................................۱۴
څلور ویشتمه ماده : د جواز او چکپاینټ قرارداد میعاد او تمدید...................................۱۴
پنځه ویشتمه ماده : د جوازونو او چکپاینټ د قراردادونو تعداد.....................................۱۵
شپږ ویشتمه ماده : د ضمني او زیاتو منرالونو کشف او شمولیت ................................ ۱۵
اووه ویشتمه ماده : د جواز څخه انصراف او د چکپاینټ قرارداد فسخه..........................۱۶
اته ویشتمه ماده : مؤقت معافیت .....................................................................۱۶
نهه ویشتمه ماده : د تاریخي او فرهنګي اثارو کشف............................................. ۱۷
دیرشمه ماده : د تاسیساتو اعمارول..................................................................۱۷
یو دیرشمه ماده : د کان بیا رغونه ...................................................................۱۷
دوه دیرشمه ماده : د ساختماني موادو کاري برنامه ...............................................۱۷

## پنځم فصل

## عواید، مالیات، او څارنه


دري دیرشمه ماده : د عوایدو تحویلول..........................................................۱۹

څلور دیرشمه ماده : حق الزحمه ( فیس )..........................................................۱۹

پنځه دیرشمه ماده : رویالټي او د چکپاینټ محصول..........................................................۱۹

شپږ دیرشمه ماده : د رویالټی معافیت ..........................................................۲۰

اووه دیرشمه ماده : د چکپاینټ قرارداد حق الاجاره..........................................................۲۰

اته دیرشمه ماده : د ځمکې د سطحې حق الاجاره..........................................................۲۰

نهه دیرشمه ماده : ضمانتونه..........................................................۲۱

څلویښتمه ماده : مالیاتي امور ..........................................................۲۱

یو څلویښتمه ماده : ولایتي انکشافي صندوق ..........................................................۲۱

دوه څلویښتمه ماده : د چکپاینټ قرارداد د محصول کتابچې ..........................................................۲۲

دري څلویښتمه ماده : تفتیش او څارنه ..........................................................۲۲


## شپږم فصل

## ثبت او معاملات


څلور څلویښتمه ماده : ثبت او نشر ..........................................................۲۳

پنځه څلویښتمه ماده : د اسنادو او معلوماتو ساتنه ..........................................................۲۳

شپږ څلویښتمه ماده : د کادستري سروې نقشه ..........................................................۲۳

اووه څلویښتمه ماده : په کنترول کې بدلون ..........................................................۲۳

اته څلویښتمه ماده : د جواز او د چکپاینټ قرارداد یا یې د ګټې لیږدونه..........................................................۲۴

نهه څلویښتمه ماده: ذینفع مالکیت کې بدلون ..........................................................۲۴

پنځوسمه ماده : انتقالي حکمونه..........................................................۲۴

یو پنځوسمه ماده : د خسارې جبرانول..........................................................۲۴

دوه پنځوسمه ماده : د جواز او چیک پاینت قرارداد لغو اوفسخ..........................................................۲۴

دری پنځوسمه ماده : تخلفات او عدلي تعقیب..........................................................۲۵


Islamic Emirate of Afghanistan
د کانونو او پټرولیم وزارت
MINISTRY OF MINES AND PETROLEUM
ریاست دفتر مقام

## اووم فصل

## وروستي حکمونه


څلور پنځوسمه ماده : خاوره او د خاورینو خښتو بټۍ ..........................................................۲۶

پنځه پنځوسمه ماده : د پروسس (ریکریشن) فعالیتونه ...........................................................۲۶

شپږ پنځوسمه ماده : د ساختماني موادو غیر قانوني کان کیندنه.............................................۲۶

اووه پنځوسمه ماده : شکایات ............................................................................................۲۶

اته پنځوسمه ماده : د منازعاتو حل او فصل ...........................................................................۲۷

نهه پنځوسمه ماده : تعدیل.................................................................................................۲۷

شپیتمه ماده : تناقض.........................................................................................................۲۷

یو شپیتمه ماده : انفاذ .......................................................................................................۲۷

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله رب العالمین و الصلاة و السلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین

# د ساختماني موادو د کان کیندنې لارښود

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**د ترتیب منظور**

**لومړۍ ماده:**

دا لارښود د لاندینیو موخو لپاره ترتیب شوه ده:

۱- د ساختماني موادو د کان کیندنې او د چکپاینټ قرارداد د چارو تنظیم او مدیریت.

۲- د ساختماني موادو د کان کیندنې او چکپاینت قرارداد د ساحاتو، سروی، تثبیت او پیژندنه.

۳- د ساختماني موادو د کان کیندنې جواز او د چک پاینټ قرارداد ورکولو پروسې آسانه کول.

٤- د ساختماني موادو د غیر قانوني کان کیندنې مخنیوی او کچه یې راټیټول.

٥- د ساختماني موادو د کان کیندنې او چکپاینټ قرارداد له لارې د عوایدو راټولول.

٦- د ساختماني موادو د کان کیندنې له لارې د هیواد د ودانیزو پروژو پراختیا.

**اختصاري نومونه**

**دویمه ماده:**

(۱) د کانونو او پټرولیم وزارت په دې لارښود کې د وزارت په نوم یادیږي.

(۲) د کانونو او پټرولیم وزارت د کانونو ولایتي ریاست او آمریت (د وزارت دویم واحد) په دې لارښود کې د کانونو ولایتي ریاست په نوم یادیږي.

(۳) د کانونو او پټرولیم وزارت او اړونده اداراتو ترمنځ د ودانیزو کاني موادو تفاهمنامه په دې لارښود کې د ساختماني موادو د تفاهمنامې په نوم یادیږي.

(٤) د ساختماني موادو د چکپاینټ قرارداد په دې لارښود کې د چکپاینټ قرارداد په نوم یادیږي.

(٥) د ساختماني موادو د کان کیندنې جواز په دې لارښود کې د جواز په نوم یادیږي.

(٦) کاني(منرالي) ساختماني مواد په دې لارښود کې د ساختماني موادو په نوم یادیږي.

**اصطلاحات**

**دریمه ماده:**

(۱) پدې رهنمود کې راتلونکې اصطلاحگانې لاندې مفاهیم ورکوي:

۱- **کاني ساختماني مواد:** ریک، جغل او تعمیراتي ډبره ساختماني کاني مواد دي، چې خاوره د ساختماني موادو په تعریف کې شامله نده.

۲- **د ساختماني موادو کان کیندنه:** د دې لارښود د احکامو مطابق د ساختماني موادو د استخراج او ګټې اخیستنه ده.

۳- **د ساختماني موادو غیر قانوني کان کیندنه:** د دې لارښود او د ساختماني موادو تفاهنامې د احکامو پرته چې د ساختماني موادو کان کیندنه کیږي، غیر قانوني ګڼل کیږي.

٤- **د ساختماني موادو د کان کیندنې جواز:** هغه رسمي سند دی چې د کانونو ولایتي ریاست لخوا د ساختماني موادو د کان کیندنې لپاره د دې لارښود مطابق د شخص په نوم ثبت او صادریږي.

۵- **جواز لرونکی:** هغه شخص دی چې په نوم یې جواز د دې لارښود مطابق ثبت او صادر شوی وي.

٦- **د جواز ساحه:** په جواز کې مندرجه د ځمکې ساحه ده، چې جواز لرونکی د دې لارښود مطابق په هغه کې د ساختماني موادو کان کیندنه ترسره کوي.

۷- **شخص:** دوه ډوله دی:

- **حقیقي شخص:** هغه شخص دی چې د اتلس (۱۸) کلنې عمر یې تکمیل کړی او قانوني او شرعي اهلیت لرونکی وي.
- **حکمي (معنوي) شخص:** هغه معنوي شخص دی چې د افغانستان یا د بهرني دولت د تقنیني سندونو له حکمونو سره سم، تاسیس شوی وي.

۸- **حق الزحمه (فیس):** په دې لارښود کې هغه معینې پیسې دي چې د جواز متقاضي او داوطلب لخوا د اداري خدماتو د وړاندې کولو په بدل کې د کانونو ولایتي ریاست د اړونده سند په ذریعه د امارت حساب (د وزارت بانکي حساب) ته تحویلیږي.

۹- **رویالتی(حق الامتیاز):** هغه معینې پیسې دي چې د دې لارښود د احکامو مطابق د استخراج شویو ساختماني موادو څخه د جواز لرونکې لخوا د کانونو ولایتي ریاست د اړونده سند په ذریعه د امارت حساب (د وزارت بانکي حساب) ته تحویلیږي.

۱۰- **د ځمکې د سطحې حق الاجاره:** هغه معینې پیسې دي چې د دې لارښود د احکامو مطابق د جواز لرونکي لخوا، د کانونو ولایتي ریاست د اړونده سند په ذریعه د امارت حساب (د وزارت بانکي حساب) ته تحویل یا د ځمکې مالک یا شرعي متصرف ته ورکول کیږي.

۱۱- **د چکپاینټ قرارداد حق الاجاره:** هغه معینې پیسې دي چې د دې لارښود د احکامو مطابق د چکپاینټ قرارداد ګټونکي داوطلب او د قرارداد لرونکي لخوا د چکپاینټ قرارداد په بدل کې د کانونو ولایتي ریاست د اړونده سند په ذریعه د امارت حساب (د وزارت بانکي حساب) ته تحویلیږي.

۱۲- **د ساختماني موادو چکپاینټ:** هغه محل،ساحه او مسیر دی چې د دې لارښود د احکامو مطابق د ساختماني موادو د عوایدو راټولولو لپاره شخص ته په قرارداد ورکول کیږي.

۱۳- **د ساختماني موادو کاري برنامه:** د ساختماني موادو د استخراج او ګټې اخیستی او د هغې اړونده مصارفو او د کان کیندنې فعالیتونو ترسره کولو او د تدابیرو تفصیلی برنامه ده چې د دې لارښود د احکامو مطابق، داوطلب او متقاضي د هغې په ترتیب او جواز لرونکی د هغې په تطبیقولو مکلف دی.

۱٤- **د داوطلبی پروسه:** د جواز او چکپاینټ قرارداد ورکولو لپاره د داوطلبي د اعلان څخه شروع او د جواز د صدور او قرارداد د عقد پورې د فعالیتونو او اجراآتو مجموعې پروسه ده چې د دې لارښود د احکامو مطابق په لار اچول کیږي.

Emirate of Afghanistan
وزارت معادن و پترولیم
ریاست دفتر مقام

۱۵- **داوطلب:** په شرایطو برابر هغه شخص دی چې د دې لاربښود د احکامو مطابق د جواز او یا د چکپاینټ قرارداد اخیستلو لپاره د داوطلبي په پروسه کې ګډون کوي.

۱۶- **متقاضي:** په شرایطو برابر هغه شخص دی چې د دې لاربښود د احکامو مطابق د جواز اخیستلو یا د جواز او د چکپاینټ قرارداد د تمدید غوښتونکی وي.

۱۷- **د ساختماني موادو د کادستري نقشه:** د توپوګرافی هغه نقشه ده، چې د ساختماني موادو د ساحاتو حدود او نور اړونده جزئیات د کوردیناتو په وسیله ښکاره کوي.

۱۸- **د تعهداتو د حسن اجراء ضمانت:** د دې لاربښود د احکامو مطابق هغه مالي معین تضمین دی چې په جواز او د چکپاینټ قرارداد کې د مندرجو تعهداتو د ښه ترسره کولو لپاره د کانونو ولایتي ریاست د اړونده سند په ذریعه د جواز یا د چکپاینټ قرارداد د ګټونکي داوطلب یا یې د متقاضي لخوا د کانونو ولایتي ریاست د اړونده سند په ذریعه تحویل او په بانک کې ساتل کیږي.

۱۹- **د چاپیریال ساتنې ضمانت:** د دې لاربښود د احکامو مطابق هغه مالي معین تضمین دی چې د چاپیریال ساتنې تدابیرو او برنامو د تعهداتو د اجراء په موخه د کانونو ولایتي ریاست د اړونده سند په ذریعه د جواز د ګټونکي داوطلب یا یې د متقاضي لخوا د کانونو ولایتي ریاست د اړونده سند په ذریعه تحویل او په بانک کې ساتل کیږي.

۲۰- **تجهیزات:** هغه ماشین الات او وسایل دي چې د ساختماني موادو د کان کیندنې لپاره د جواز لرونکي لخوا ترې استفاده کیږي.

۲۱- **د ګزارش ورکولو کال:** د جواز او د چکپاینټ قرارداد د صدور او ثبت څخه وروسته دولس میاشتنې موده ده.

۲۲- **منفجره مواد:** هغه مواد دي چې د جواز په مندرجه ساحه کې د احجارو نرمولو لپاره د ساختماني موادو کان کیندنه کې، ترې ګټه اخیستل کیږي.

۲۳- **حادثه:** هغه واقعه ده چې د جواز په مندرجه ساحه کې د انسانانو، حیوناتو، چاپیریال، اشیاوو ته د واقعي یا باالقوه اسیب رامنځ ته کوي او یا د انسانانو او حیوناتو د مرګ سبب کیږي یا د اموالو د ضیاع او خسارې سبب کیږي.

۲۴- **خطر:** د زیان او تهدید هغه منبع دی چې د اشخاصو، حیواناتو، تجهیزاتو، چاپیریال، صحت او خوندیتوب ته د اسیب رسولو قابلیت ولري او یا د ساختماني موادو کان کیندنې برخه کې د منفي اثراتو درلودونکی وي.

۲۵- **ذیصلاح ریاست:** د ساختماني موادو د کان کیندنې جواز د صدور په تړاو د کانونو ولایتي ریاست دی.

۲۶- **مؤقت معافیت:** د ساختماني موادو په کاري برنامه او د جواز په شرایطو او تهعداتو کې مؤقت معافیت دی چې د دې لاربښود د احکامو مطابق جواز لرونکي ته ورکول کیږي.

**د تطبیق ساحه او مراجع**

**څلورمه ماده:**

(۱) دا لاربښود د ساختماني موادو د کان کیندنې چارو او فعالیتونو په برخه کې د تطبیق وړ دی.

(۲) دکانونو او پټرولیم وزارت د دې لاربښود د تطبیق مرجع دی.

Emirate of Afghanistan
وزارت معادن و پترولیم د کانونو او پټرولیم وزارت
MINISTRY OF MINES AND PETROLEUM
ریاست دفتر مقام

**د ساختماني موادو مالکیت**

**پنځمه ماده:**

(۱) ساختماني مواد چې په طبیعی حالت او د امارت په ځمکه کې وي، د امارت ملکیت گڼل کیږي.

(۲) که چیرې د ساختماني موادو کان په شخصي ځمکه کې وي، د دې لارښود او د ساختماني موادو د تفاهمنامې د احکامو مطابق د ځمکې مالک یې کولی شي چې:

۱- د کان کیندنې لپاره یې جواز ترلاسه کړي.

۲- د رویالټۍ د تحویلولو پرته د خپل کور او ودانیو جوړولو لپاره استخراج او گټه ترې واخلي.

(۳) د کانونو ولایتي ریاست نشي کولی چې د امارتي او شخصي ځمکو د تشخیص څخه مخکې یاده ساحه داوطلبي ته وړاندې او یا یې د ساختماني موادو د کان کیندنې جواز صادر کړي.

(٤) د دې لارښود او د ساختماني موادو د تفاهمنامې احکامو مطابق، هغه ساختماني مواد کان کیندنه ترسره او رویالټي یې تحویل او یا یې د چکپاینټ محصول تحویل شوی وې یا استخراج او گټه ترې اخیستل شوې وي د شخص ملکیت گڼل کیږي.

## دویم فصل

## دندې او مسئولیتونه

**د کانونو ولایتي ریاست دندې او مسئولیتونه**

**شپږمه ماده:**

د کانونو ولایتي ریاست د ساختماني موادو د کان کیندنې او چکپاینټ قرارداد او اړونده اجرااتو او فعالیتونو په برخه کې لاندې دندې، مسئولیتونه او مکلفیتونه لري:

۱- د دې لارښود د احکامو تطبیقول او ورڅخه څارنه کول.

۲- د ساختماني موادو د کان کیندنې او چکپاینټ قرارداد د ساحاتو سروی، تثبیت، بلاک بندی، سکیچ بندي او پیژندنه او په کلنې پلان کې یې درجول.

۳- د جواز او چکپاینټ قرارداد د ورکړې او د داوطلبۍ پروسو ترسره کول او هغې څخه څارنه کول.

٤- د ساختماني موادو د کان کیندنې او چکپاینټ قرارداد د چارو او فعالیتونو مدیریت او تنظیمول.

۵- د ساختماني موادو او د چکپاینټ قرارداد ساحات د داوطلبي اعلان ته ورکول.

٦- د ساختماني موادو د کاري برنامې ارزیابی، تائیدي او ردول او یا اصلاحات پکې درجول.

۷- د ثبت دفتر مدیریت کول.

۸- د اسنادو او معلوماتو ساتنه.

۹- د جواز د تعلیق، رفع تعلیق او لغوه کولو او د چکپاینټ قرارداد د فسخه کولو او د داوطلبي پروسو لغوه کولو، تخلفاتو او عدلي تعقیب موارد تشخیص او د وزارت مقام ته یې د منظوری لپاره وړاندې کول.

۱۰- د ساختماني موادو د کان کیندنې او د چکپاینټ قرارداد د عوایدو را ټولول او مدیریت کول.

۱۱- د جواز او چکپاینټ قرارداد صادرول، ثبتول او د تمدیدولولو په اړه یې اجرات ترسره کول.

۱۲- د جواز لرونکو او ذیدخلو اشخاصو د ستونزو او منازعات د تقنیني اسنادو او اسلامي شرعیت په رڼا کې حل او فصل کول.

۱۳- د جواز او چکپاینټ قرارداد د مندرجو شرایطو اجراء کول او پلي کول.

۱۴- اړونده مراجعو ته د ساختماني موادو د کان کیندنې د فعالیتونو او د چکپاینټ د قراردادونو گزارش ورکول.

۱۵- د جواز لرونکو،اجازه نامه لرونکو او د چکپاینټ قرارداد لرونکو څخه گزارش اخیستل.

۱٦- د جواز لرونکو، چکاپینټ قرارداد لروڼکو د کان کیندنې او نورو ذیربطو فعالیتونو او اجرااتو تفتیش او نظارت ترسره کول.

۱۷- د ساختماني موادو د کان کیندنې او چکپاینټ قرارداد له اړخه شکایاتو ته رسیدگې او په اړه یې اصولي اجرات ترسره کول.

۱۸- وزارت ته د ساختماني موادو د کان کیندنو، د اجرااتو، او فعالیتونو گزارش وړاندې کول.

۱۹- د ساختماني موادو په اړه د کانونو سکتور تقنیني اسنادو، لارښودونو او د کانونو ریاست دندو په لایحو کې د نورو مندرجو احکامو، مسوولیتونو، دندو او مکلفیتونو ترسره کول.

۲۰- په دې لارښود کې د نورو مندرجو دندو، مسوولیتونو او مکلفیتونو ترسره کول.

**د مرکزي ریاستونو مکلفیتونه**

**اوومه ماده:**

(۱) د کادستر او منرالونو د تنظیم عمومي، د حقوقو عمومي او د کانونو تخنیکي تفتیش ریاستونه د ساختماني موادو د کان کیندنې فعالیتونو برخه کې مکلف دي چې د دې لارښود د احکامو مطابق په پښتو او درې ژبو سره د جواز، د چکپاینټ قرارداد، آفرگشایئ، ارزیابی، شرط نامې ، او نورې اړونده لازمې نمونوي فورمې او اسناد، ترتیب کړي او د کانونو ولایتي ریاستونو ته یې د ولایتونو چارو د همغږۍ ریاست له لارې واستوي.

(۲) د کادستر او منرالونو د تنظیم او د جیولوجیکی معلوماتو عمومي ریاستونه مکلف دي چې د جواز او چکپاینټ قرارداد یو کاپي نسخه د ثبت په دفتر کې ثبت او وساتي.

(۳) د عوایدو د تنظیم ریاست مکلف دی، چې د دې لارښود د احکامو مطابق، د ساختماني موادو د کان کیندنې او د چکپاینټ قرارداد د عوایدو راټولولو په برخه کې لازمې فورمې او کتابچې (تعرفې) په پښتو او درې ژبو سره په نمونوي ډول ترتیب د کانونو ریاستونو ته یې رسما واستوي.

(٤) د ولایتونو چارو د همغږۍ ریاست مکلف دی چې د کانونو ریاستونو او مرکزي ریاستونو اړیکې په دوامدار او موثر ډول ټینگې او په وخت سره د ساختماني موادو د کان کیندنې فعالیتونو او د چکپاینټ قراردادونو په برخه کې لازم اجراات تر سره کړي.

(٥) د وزارت مرکزي ریاستونه مکلف دي چې د کانونو ریاستونو سره د ساختماني موادو د کان کیندنې او د چکپاینټ قرارداد په برخه کې خپلې کاري ساحې ته په کتو د نافذه تقنیني اسنادو، لارښودونو، اصولو او د دندې د لایحو په رڼا کې لازمه همکاري او اجراات تر سره کړي.

# دریم فصل
# د داوطلبی پروسه او کمېټې

**داوطلبي**

**اتمه ماده:**

(۱) دکانونو ولایتي ریاست مکلف دی، چې د دې لارښود د احکامو مطابق د ساختماني موادو د کان کیندنې او چکپاینټ قرارداد ساحې د کلنې پلان مطابق یا د شخص د غوښتنې په صورت کې د داوطلبي لپاره اعلان ته وسپاري.

(۲) د ساختماني موادو د کان کېندنې جواز او چکپاینټ قرارداد د داوطلبي د اعلان موده د (۱۰) کاري ورځو څخه کمه او د (۲۰) کاري ورځو څخه نشي زیاتیدلی.

(۳) که چیرې د ساختماني موادو د کان کنیدنې جواز یا د چکپاینټ قرارداد د داوطلبي اعلان د پای مودې پورې هیڅ شخص دواطلبی کې ګډون ونکړي، یاده ساحه په پرله پسې ډول د دویم او دریم ځلونو لپاره د دې مادې د احکامو مطابق اعلان ته سپارل کیږي.

(٤) د کانونو ولایتي ریاست مکلف دی چې د ساختماني موادو د کان کیندنې د دواطلبی په اعلان کې، لاندې معلومات درج او د خپلې اجتماعي شبکې، محلي امارتي رسنی، او د اړتیا په صورت کې د وزارت د اجتماعي شبکو له لارې اعلان ته وسپاري.

۱- د جواز نوعیت؛

۲- د ساختماني موادو نوعیت؛

۳- د ساحې مساحت او شرحه؛

٤- په شرایطو د برابروالي معیارونه؛

٥- د اعلان د پیل او پای نېټه؛

٦- د تعهداتو د حسن اجراء ضمانت مقدار؛

۷- د ژوند چاپیریال ساتنې ضمانت مقدار؛

۸- د ساختماني موادو کاري برنامه؛

۹- د جواز د حق الزحمې(فیس) مقدار؛

۱۰- د ځمکې د سطحې حق الاجارې مقدار؛

۱۱- د رویالټي مقدار؛

۱۲- د داوطلبي اسنادو تسلیمولو مرجع(د کانونو ولایتي ریاست) نوم، ادرس او د اړیکو شمیره؛

۱۳- نور لازم معلومات؛

(٥) د کانونو ولایتي ریاست مکلف دی چې د چکپاینټ قرارداد د دواطلبی په اعلان کې، لاندې معلومات درج او د محلي دولتي رسنی، او د اړتیا په صورت کې د وزارت د اجتماعي شبکو له لارې یې اعلان ته وسپاري.

۱- د چکپاینټ قراداد نوعیت؛

۲- د ساحې (مسیر) شرحه؛

۳- د قرارداد د حق الاجارې مقدار؛

٤- په شرایطو د برابروالي معیارونه؛

۵- د اعلان د پیل او پای نېټه؛

۶- د تعهداتو د حسن اجراء ضمانت مقدار؛

۷- د داوطلبي اسنادو تسلیمولو مرجع (د کانونو ولایتي ریاست) نوم، ادرس او د اړیکو شمیره؛

۸- نور لازم معلومات؛

(۶) د ساختماني موادو د کان کیندنې جواز یا د چکپاینټ قرارداد، داوطلب مکلف دی چې د دواطلبی د اعلان په موده کې د دواطلبی د پروسی اړونده اسناد او فورمې د کانونو ولایتي ریاست څخه ترلاسه او له ډکولو وروسته یې، د اعلان د پای نېټې د اعتبار څخه د (۵) کارې ورځو په جریان کې مهر او سربسته د کانونو ولایتي ریاست ته بیرته تسلیم کړي.

(۷) که چیرې د دواطلبی اسناد او فورمې د داوطلب لخوا مهر،امضاء ، او سربسته شوي نه وي، د کانونو ولایتي ریاست نشي کولی یاد اسناد او فورمې تسلیم شي.

(۸) د کانونو ولایتي ریاست مکلف دی چې، د داوطلب څخه د اړونده اسنادو او فورمو د ترلاسه کولو سره سم د وخت، نېټې او نور مشخصات په اړونده کتاب کې ثبت او داوطلب ته د ثبت ټکټ(رسید) ورکړي.

(۹) که چیرې ګټونکی داوطلب، د جواز د صدور او یا د چکپاینټ قرارداد د عقد څخه مخکې کتبې انصراف وکړي د همدغې ساحې لومړي ریزرف داوطلب ته جواز صادر او د چکپاینټ قرارداد ورکول کیږي.

(۱۰) که چیرې ګټونکی داوطلب د جواز د صدور او د چک پاینټ د قرارداد د عقد څخه مخکې درې ځلي انصراف وکړي دایماً نشي کولی چې د ساختماني موادو د کان کیندنې جواز او د چکپاینټ قرارداد داوطلبي پروسو کې ګډون وکړي.

(۱۱) د کانونو ریاست، داوطلب او جواز لرونکی کولی شي چې د داوطلبي پروسې اسناد او فورمې د هیواد د دواړو رسمي ژبو (پښتو یا دري) څخه په یوې ژبه ترتیب او وړاندې کړي.

**د داوطلبي فسخه او د داوطلب محرومیت**

**نهمه ماده:**

(۱) د ساختماني موادو د کان کیندنې جواز او د چکپاینټ قرارداد داوطلبي په لاندینیو حالاتو کې فسخه او ساحه مجدداً د داوطلبي اعلان ته سپارل کیږي.

۱- که چیرې په داوطلبي کې یو شخص ګډون وکړي.

۲- که چیرې داوطلبان د دې لارښود د احکامو مطابق واجد د شرایطو نه وي.

۳- که چیرې داوطلبانو په خپلو منځو کې سازش کړی وي.

۴- که چیرې داوطلبانو د ادارې فساد اعمالو مرتکب شوي وي.

۵- که چیرې هیڅ شخص په داوطلبی کې ګډون ونکړي.

(۲) داوطلب په لاندینیو حالات کې د جواز او چکپاینټ قرارداد په داوطلبی کې د ګډون څخه محروم ګڼل کیږي:

۱- داوطلب د امارت لوړ رتبه او ټیټ رتبه کارمند وي.

۲- د ادارې فساد اعمالو مرتکب شي یا اقدام هڅه وکړي.

۳- د دې لارښود احکامو مطابق واجد د شرایطو نه وي.

۴- د دې لارښود مطابق په نورو حالاتو کې.

**د آفر گشایئ کمېټه**

**لسمه ماده:**

د جواز او د چکپاینټ د قرارداد د داوطلبۍ پروسو لپاره د آفرگشایئ واحده کمېټه په کلنۍ ډول د کانونو ریاست د درې تنو مختلفو شعبو د کارمندانو په ترکیب د هر مالي کال د دوو ربعو لپاره، د کانونو ولایتي ریاست په پیشنهاد او د ولایت مقام په منظوری ایجادیږي.

**د ارزیابی کمېټه**

**یوولسمه ماده:**

د جواز او د چکپاینټ د قرارداد د داوطلبۍ پروسو او د قراردادي شرکت لپاره د اړنده اداري د معرفت مکتوب په اساس د جواز وروکولو د ارزیابی لپاره ،واحده کمېټه د هر مالي کال د دوو ربعو لپاره د کانونو ولایتي ریاست په پیشنهاد او د ولایت مقام په منظوری سره په لاندې ترکیب ایجادیږي.

۱- د کانونو ولایتي ریاست دوه تنه استازي.

۲- د ولایت مقام یو تن استازی.

۳- د چاپیریال ساتنې اداري یو تن استازی.

٤- د ښاروالی یو تن استازی.

**آفر گشایي او ارزیابي تر سره کول**

**دولسمه ماده:**

(۱) د آفر گشایئ کمېټې غړي نشي کولی د ارزیابی کمېټه کې عضویت واخلي او د ارزیابی کمېټې غړي نشي کولی د آفرگشایئ کمېټه کې عضویت واخلي.

(۲) د آفرگشایئ کمېټه مکلفه ده چې د آفرگشایئ پروسه (۸) مادې د شپږمې فقرې کې د مندرجې نېټې څخه وروسته د (۳) کاري ورځو په جریان کې ترسره او تکمیل کړي.

(۳) د آفرگشایئ او ارزیابی کمېټو ریاست د کانونو رئیس او سکرتریت یې د جواز او چکپاینټ قرارداد د صدور او ثبت اړونده شعبې په عهده دی.

(٤) د آفرگشایئ کمېټه مکلف ده چې د آفر گشایئ فورم (چک لیست) او شرط نامې مطابق، آفرگشایي ترسره او گزارش یې ترتیب او امضاء کړي او اسناد بیرته مهر، امضاء او سربسته کړي.

(٥) د آفر گشایئ او ارزیابی کمېټو غړي نشي کولی د داوطلبۍ پروسې محرم اسناد او معلومات افشاء او د نورو داوطلبانو او اشخاصو سره یې شریک کړي.

(٦) د آفرگشایئ او ارزیابی کمېټو جلسات د اکثریت غړو په موجودیت کې ترسره کیږي.

(۷) د آفرگشایئ کمېټې جلسات د داوطلبانو یا یې د رسمي استازو په موجودیت کې ترسره کیږي او کولی شي د اړونده ولایتي اداراتو استازي د ناظرینو په توگه جلساتو ته دعوت کړي.

(۸) د آفر گشایئ او ارزیابی کمېټې مکلفې دي چې، په عادلانه، ازادانه او شفافه توگه او پرته د تبعیض د دې لارښود احکامو مطابق اجراات ترسره کړي.

(۹) د آفرگشایئ او ارزیابی کمېټو جلسات د کانونو ولایتي ریاست په مقر کې دایریږي.

Islamic Emirate of Afghanistan
وزارت معادن و پترولیم
ریاست دفتر مقام

(۱۰) د ارزیابی کمېټه مکلف ده چې د آفرګشایئ کمېټې اسناد د (۱۰) کاري ورځو په جریان کې ارزیابي کړي.

(۱۱) د ارزیابی کمېټه مکلفه ده چې د ارزیابی فورمو، معیارونو، چک لیست او شرط نامې مطابق د داوطلب تخنیکي، مالي او کاري تجربو، د ساختماني موادو کاري برنامې او د دې لارښود احکامو ته په کتو ارزیابي کړي او ګټونکی، ریزرف او بایلونکي داوطلبان تشخیص او ګزارش یې ترتیب او امضاء کړي.

(۱۲) د ارزیابی کمېټه کولی شي چې داوطلب ته د اسنادو او معلوماتو د صحت او سقم معلومولو لپاره استعلام ورکړي چې دا استعلام په دې لارښود کې د داوطلبي پروسې په مندرج میعاد کې د زیاتوالي مانع نشي کیدلی.

(۱۳) د کانونو ولایتي ریاست مکلف دی چې، د ارزیابی کمیټې ګزارش د (۳) کاري ورځو په جریان کې د وزارت مقام ته د منظورۍ لپاره، د ولایتونو چارو د همغږۍ ریاست له طریقه وړاندې کړي.

(۱٤) د ولایتونو چارو د همغږۍ ریاست مکلف دی چې د دې مادې په دیارلسمه فقره کې مندرج ګزارش د (۲) کاري ورځو په جریان کې د وزارت مقام ته وړاندې او د منظورۍ وروسته یې د (۲) کاري ورځو په جریان کې بیرته د کانونو ولایتي ریاست ته واستوي.

## څلورم فصل

## د جواز او چکپاینټ طی مراحل، حقوق، تخصیصات او شرایط

### د جواز او چکپاینټ قرارداد ورکړه

**دیارلسمه ماده:**

(۱) د ساختماني موادو کان کیندنې جواز او د چکپاینټ قرارداد حقیقي یا حکمي شخص ته د دې لارښود مطابق د داوطلبی په اساس ورکول کیږي چې، د دې مادې د دویمې فقرې حکم د داوطلبی څخه مستثنی ده.

(۲) د ساختماني موادو د تفاهمنامې د احکامو مطابق، حکمي شخص ته د ساختماني موادو د کان کیندنې جواز د اړونده اداراتو د رسمي مکتوب په اساس پرته له داوطلبی ورکول کیږي.

(۳) په یو جواز او یا یو د چکپاینټ قرارداد کې یو یا څو ډوله ساختماني مواد شامل کیدلی شي.

(٤) د چکپاینټ قرارداد د لاندې شرایطو په موجودیت کې په قرارداد ورکول کیږي.

۱- د جواز صادرولو امکان نه وي.

۲- د خلکو غوښتنې او اړتیاوې په کمه توګه وي.

۳- د دې لارښود د احکامو مطابق داوطلبي پروسې ته شخص حاضر نشو چې جواز ترلاسه کړي.

٤- د هغو ساختماني موادو لپاره چې په متفرقه او پراګنده توګه انتقالیږي.

۵- هغه ساحات چې د ساختماني موادو کان کیندنه یې د چاپېریال ساتنې او ټولنیزو حالاتو باندې منفي اثرات ونه لري.

(۱) که چیرې د دې مادې د (۴) فقرې شرایط تثبیت او تشخیص نشي د کانونو ولایتي ریاست نشي کولی چې د چکپاینټ قرارداد شخص ته ورکړي.

**عام المنفعه پروژې**

**څوارلسمه ماده:**

(۱) هغه امارتي اداري چې په خپله او پرته د قراردادي شرکتونو، عام المنفعه پروژې ترسره کوي او ساختماني موادو ته پکې اړتیا ولري، په دې صورت کې دغه اداراې مکلفې دي چې د ساختماني موادو د تفاهمنامې د پنځمې مادې د دویمې فقرې د حکم مطابق د کانونو او پټرولیم وزارت سره تړون وکړي.

(۲) هغه امارتي اداري چې عام المنفعه پروژې یې د قراردادیانو لخوا ترسره کیږي په دې صورت کې اړونده اداراې مکلفې دي چې خپل قراردادیان د کانونو او پټرولیم وزارت ته د جواز اخیستلو لپاره معرفي کړي.

(۳) د دې مادې د دویمې فقرې د تحقق په صورت کې د دې لارښود احکامو ته په کتو د ساختماني موادو د تفاهمنامې حکمونه هم د تطبیق وړ دي.

(٤) د کانونو ولایتي ریاست مکلف دی چې د دې مادې په (۲) فقره کې مندرج حکمي شخص (قراردادي شرکت) ته د جواز اخیستلو لازم اسناد او فورمې تسلیم او د ارزیابی کمېټې له لوري یې اړونده اسناد د دې لارښود مطابق ارزیابي او ګزارش یې ترتیب او د منظورۍ لپاره یې د وزارت مقام ته وړاندې کړي.

(٥) د ساختماني موادو په تفاهمنامه کې د ساختماني موادو د کان کیندنې طرز العمل څخه مراد دا (د ساختماني موادو د کان کیندنې لارښود) دی.

**د خلکو لخوا د ساختماني موادو استخراج**

**پنځه لسمه ماده:**

(۱) د ساختماني موادو د تفاهمنامې د اوومې مادې د لومړی فقرې، د څلورم بند حکم ته په کتو که چیرې حقیقي شخص د خپل کور، ودانیو او تعمیراتو جوړولو لپاره، ساختماني موادو ته اړتیا ولري، کولی شي چې د خپل او یا امارتي ملکیت او د شرعي تصرف ساحې څخه د جواز اخیستلو، د رویالتي او د چکپاینټ قرارداد د محصول د تحویلولو پرته د اړتیا وړ ساختماني مواد، استخراج او ګټه ترې واخلي.

(۲) د دې مادې د لومړی فقرې د تحقق په صورت کې حقیقي شخص مکلف دی چې لاندې موارد رعایت کړي:

۱- کور، ودانۍ او تعمیر جوړول باید تجارتي جنبه ونه لري.

۲- چاپیریال ته منفي ضرر وارد نکړي او د چاپیریال ساتنې تدابیر رعایت او ساحه بیرته ورغوي.

**د ساحاتو او محلونو تخصیص**

**شپاړسمه ماده:**

(۱) د کانونو ولایتی ریاست نشي کولی چې ممنوعه ساحې د کان کیندنې لپاره اعلان او جواز ورته صادر کړي.

(۲) د لوی مقیاس، کوچنی مقیاس او حرفه ای کان کیندنې قرادادونو او جوازونو ساحاتو کې د ساختماني موادو د کان کیندنې جواز صادر کیدای نشي.

(۳) د کانونو ولایتي ریاست مکلف دی چې د چکپاینټ قراداد ساحات سروی، تثبیت، تشخیص او په استراتیژیکه ساحاتو (مسیرونو) کې یې تعین کړي.

(٤) د چکپاینټ قراداد ساحات د ولایتونو په ټولو ولسوالیو او ښاري ناحیو کې تعین کیدلای شي.

(٥) که چیرې د چکپاینټ قرارداد تعیین شوی استراتیژیکه ساحه (نقطه)د قرارداد د عقد څخه وروسته، د قرارداد لرونکي لپاره ګټوره او استراتیژیکه نه وي، قرارداد لرونکی کولی شي د کانونو ولایتي ریاست په مشوره او توافق د عقد شوې قرارداد په ساحو کې د چکپاینټ د استراتیژیک ساحې (نقطې) ته تغییر ورکړي.

(٦) قرارداد لرونکی کولی شي د کانونو ولایتي ریاست په مشوره او توافق د عقد شوې قرارداد په ساحو (مسیرونو) کې د چکپاینټ نور فرعي محلونه ایجاد کړي.

**په شرطونو برابروالی**

**اووه لسمه ماده:**

(۱) هغه حقیقي شخص کولی شي چې د ساختماني موادو د کان کیندنې جواز او یا د چکپاینټ قرارداد ترلاسه کړي چې د لاندینیو شرایطو لرونکی وي:

۱- د افغانستان تابعیت ولري.

۲- د اتلس کلنی عمر یې تکمیل کړی وي.

۳- قانوني او شرعي اهلیت لرونکی وي.

٤- د ساختماني موادو د کان کیندنې جواز/اجازه لیک او یا د چکپاینټ قرارداد یې د تیرو دریو کلنو په بهیر کې د وزارت لخوا د تخلفاتو ترسره کولو په نتیجه کې لغوه اویا فسخه شوی نه وي.

٥- د وزارت د تقنیني اسنادو او اصولو په نقضولو محکوم شوی نه وي.

٦- د امارت لوړ رتبه او ټیټ رتبه برحال کارمند نه وي.

(۲) هغه حکمي شخص کولی شي چې، د ساختماني موادو د کان کیندنې جواز او د چکپاینټ قرارداد ترلاسه کړي چې د لاندینیو شرایطو لرونکی وي:

۱- د ساختماني موادو د کان کیندنې جواز/اجازه لیک او یا د چکپاینټ قرارداد یې د تیرو دریو کلنو په بهیر کې د وزارت لخوا د تخلفاتو د ترسره کولو په نتیجه کې لغوه اویا فسخه شوی نه وي.

۲- د وزارت د تقنیني اسنادو او اصولو په نقضولو محکوم شوی نه وي.

۳- مالک یې د امارت لوړ رتبه او ټیټ رتبه برحال کارمند نه وي.

**د جواز لرونکي او چکپاینټ قرارد لرونکي حقوق**

**اته لسمه ماده:**

(۱) جواز لرونکی د جواز په مندرجه ساحه کې، د لاندینیو انحصاري حقوقو لرونکی دی:

۱- د جواز ترلاسه کول.

۲- د ساحې تسلیمدل.

۳- د ضرورت په صورت کې د ساختمانی موادو د کان کیندنې لپاره د جواز په مندرجه ساحه کې د تاسیساتو جوړول.

٤- د تقنیني اسنادو مطابق د ساختماني موادو د کان کیندنې فعالیتونو لپاره د اوبو څخه ګټه اخیستنه.

٥- د جواز مندرج ساحی ځمکې ته لاس رسی.

٦- د استخراج شویو ساختماني موادو انتقال او ذخیره کول.

٧- د ضایعاتو او پسمانده موادو مدیریت او ذخیره کول.

۸- د اړونده رهنمود/طرز العمل مطابق د ساختماني موادو پروسس ترسره کول.

۹- د ساختماني موادو خرڅلا او بازار موندنه.

۱۰- د دې لارښود مطابق نورو حقوق.

(۲) د چکپاینټ قرارداد لرونکی د قرارداد په مندرجه ساحه کې د لاندینو انحصاري حقوقو لرونکی دی:

۱- د قرارداد ترلاسه کول.

۲- د چکپاینټ قرارداد محصول اخیستل.

۳- د ساحې تسلیمدل.

٤- د چکپاینټ قرارداد ساحه کې د مؤقتو ضروري او منقولو تاسیساتو جوړول.

۵- د کارکوونکو ګمارنه.

٦- د دې لارښود مطابق نورو حقوق.

**د جواز او چکپاینټ قرارداد شرایط**

**نوولسمه ماده:**

(۱) جواز د لاندینیو شرایطو تابع او جواز لرونکی یې په ترسره کولو مکلف دی:

۱- په جواز کې د مندرجو شرایطو او مکلفیتونو رعایتول.

۲- د ساختنمانی موادو د کاري برنامې رعایت او اجرا کول.

۳- د حق الزحمې (فیس) تادیه کول.

٤- د کانونو ولایتي ریاست ته د ذینفع مالکینو د تغیر اطلاع ورکول.

۵- د ځمکې د سطحې حق الاجارې تادیه کول.

٦- د کانونو ولایتي ریاست ته ربعوار او کلنې،حادثاتو او نور لازم ګزارشونه ورکول.

۷- د رویالټي تادیه کول.

۸- د چاپیریال ساتنې ضمانت تادیه کول.

۹- د تعهداتو د حسن اجراء ضمانت تادیه کول.

۱۰- د واردې شوې خسارې او اضرارو جبرانول.

۱۱- د چاپیریال ساتنې اړونده تقنیني اسنادو رعایتول.

۱۲- د اړوندې ادارې څخه چاپیریال ساتنې جواز اخیستل.

۱۳- د کار او مالیاتو تقنیني اسنادو رعایتول.

۱٤- د دې لارښود د احکامو رعایتول.

(۲) د چکپاینټ قرارداد د لاندینیو شرایطو تابع دی او قرارداد لرونکی یې په ترسره کولو مکلف دی:

۱- د دې لارښود د احکامو رعایتول.

۲- د کانونو ولایتي ریاست ته ربعوار او کلنې او نور لازم ګزارشونه ورکول.

۳- د قرارداد مندرج شرایطو او مکلفیتونو رعایتول.

٤- د کانونو ولایتي ریاست ته د ذینفع مالکینو د تغیر اطلاع ورکول.

۵- د ساختماني موادو د انتقالونکو څخه ټاکل شوي محصول اخيستل.

۶- د چکپاينټ قرارداد د حق الاجارې تاديه کول.

۷- د دې لارښود د احکامو رعايتول.

**<u>د جواز او چکپاينټ قرارداد ماهيت او مشخصات</u>**

**شلمه ماده:**

(۱) د ساختماني موادو د کان کيندنې جواز يواځې د ځمکې څخه د ګټې اخيستنې اختصاصي حق د هغې لرونکي ته ورکوي چې دغه حق پر ځمکې باندې د هيڅ بل ډول حقوقو د ورکړې لامل نه کيږي.

(۲) د چکپاينټ قرارداد يواځې د معدني ساحو څخه د ساختماني رايستل شويو ساختماني موادو د محصول راټولو اختصاصي حق قرارداد لرونکي ته ورکوي چې د نورو حقوقو د ورکړې لامل نشي کيدلای.

(۳) جواز کې لاندې مشخصات ليکل کيږي.

۱- د جواز نوعيت.

۲- د ساختماني موادو نوعيت.

۳- د جواز لرونکې مشخصات.

٤- د جواز صدور او پای نېټه.

۵- د جواز ميعاد.

٦- د جواز د ساحې شرحه.

۷- د منازعاتو د حل او فصل طريقه او روش.

۸- د جواز لرونکي حقوق او مکلفيتونه.

۹- هغه شرايط چې جواز پر هغې مشروط وي.

۱۰- د دې لارښود د احکامو مطابق نور لازم مشخصات.

(٤) د چکپاينټ په قرارداد کې لاندې مشخصات ليکل کيږي:

۱- د قرارداد نوعيت.

۲- د ساختماني موادو نوعيت.

۳- د چکپاينټ قرارداد لرونکې مشخصات.

٤- د چکپاينټ قرارداد ثبت او پای نېټه.

۵- د چکپاينټ قرارداد ميعاد.

٦- د چکپاينټ قرارداد د ساحې(محل) شرحه.

۷- د منازعاتو د حل او فصل طريقه او روش.

۸- د چکپاينټ قرارداد لرونکي حقوق او مکلفيتونه.

۹- هغه شرايط چې چکپاينټ قرارداد پر هغې مشروط وي.

۱۰- د دې لارښود د احکامو مطابق نور لازم مشخصات.

## د جواز او چکپاينټ قرارداد ثبت او صدور

**يو ويشتمه ماده:**

(۱) د وزارت مقام لخوا د ارزيابی کمېټې د گزارش د منظوری وروسته، جواز او د چکپاينټ قرارداد د (۵) کاری ورځو په جريان کې د کانونو ولايتي رياست لخوا امضاء، مهر، ثبت او صادريږي.

(۲) د کانونو ولايتي رياست مکلف دی چې جواز او د چکپاينټ قرارداد په ځانګړي کتاب کې ثبت او صادر کړي.

(۳) د کانونو ولايتي رياست مکلف دی چې جواز او د چکپاينټ قرارداد، اصله نسخه اړونده جواز لرونکي او قرارداد لرونکې ته ورکړي، يوه نسخه بې له ځان سره وساتي او کاپي نسخه بې د کادستر او منرالونو د تنظيم عمومي، د تخنيکي تفتيش، عوايدو د تنظيم رياستونو ته واستوي.

(۴) جواز او د چکپاينټ قرارداد د ثبت او صدور له نېټې سره سم نافذ او مرعی الاجراء ګڼل کيږي.

## مساحت

**دوه ويشتمه ماده:**

(۱) د جواز مساحت تر پنځه (۵) هکتارو او ژور والی يې تر ديرشو (۳۰) مترو پورې دی.

(۲) د چکپاينټ قرارداد لپاره مساحت (مسيرونه) د کانونو ولايتي رياست لخوا د داوطلبي په اعلان او قرارداد کې تثبيت او تعينيږي.

## د ساحې تبديلی او پراختيا

**درې ويشتمه ماده:**

(۱) د جواز او چکپاينټ قرارداد مندرجه ساحه په هيڅ صورت کې تبديل کيدی نشي.

(۲) جواز لرونکی کولی شي د جواز په مساحت کې د همجوارو (مجارو) ساحو د پراختيا کتبي غوښتنه وکړي، مشروط پردې چې د جواز مجموعي مساحت د پنځو هکتارو څخه زيات نشي.

(۳) د کانونو ولايتي رياست مکلف ده چې، د جواز په مساحت کې د ساحې د پراختيا غوښتنه د (۵) کارې ورځو په جريان کې لاندې شرايطو مطابق ارزيابي، تائيد يا رد کړي او ګزارش يې ترتيب او د وزارت مقام ته يې د منظوری لپاره وړاندې کړي:

١- جواز لرونکي د دې لارښود احکام او د جواز شرايط يې رعايت کړي وي.

٢- د ساحې پراختيا غوښتنه يې دوه (۲) مياشتې مخکې د صادر شوي جواز د انقضاء مودې څخه کړې وي.

٣- جواز لرونکی تعهد وکړي چې د پراختيا ساحې لپاره د صادر شوي جواز شرايط رعايت کوي.

٤- د ساختماني موادو کاري برنامه کې تعديل رامنځ ته او تطبيق يې کړي.

(۴) د ساحې د پراختيا د غوښتنې د تائيدی او منظوری په صورت کې د صادر شوي جواز احکام د تطبيق وړ دي.

(۵) د چکپاينټ قرارداد لرونکی نشي کولی چې د ساحې د پراختيا غوښتنه وکړي.

## د جواز او چکپاينټ قراداد ميعاد او تمديد

**څلور ويشتمه ماده:**

(۱) د جواز حداقل ميعاد (۳) مياشتې او زيات ميعاد يې (۲) کلونو پورې دی، چې د ساختماني موادو د ذخيرې تر ختم پورې د نورو متوالي مودو لپاره د جواز لرونکي په غوښتنه تمديد کيدای شي.

(۲) د چکپاینټ قرارداد میعاد یو (۱) مکمل کال دی، چې د نورو متوالي مودو لپاره د قرارداد لرونکې په کتبي غوښتنه تمدید کیدی شي.

(۳) د ارزیابی کمېټه مکلفه ده، چې د جواز یا چکپاینټ قرارداد د تمدید غوښتنه او اسناد یې د (۵) کارې ورځو په جریان کې لاندې شرایطو مطابق ارزیابي او گزارش یې ترتیب کړي.

۱- په هغه صورت کې چې د تمدید غوښتنلیک یې (۳۰) ورځې مخکې د جواز او چکپاینټ قرارداد د پای د نیټې څخه د کانونو ولایتي ریاست ته کتبا وړاندې کړي.

۲- په هغه صوت کې چې جواز لرونکي او د چکپاینټ قرارداد لرونکي د دې لارښود احکام او په جواز او چکپاینټ کې مندرج شرایط او مکلفیتونه رعایت کړې وي.

۳- په هغه صورت کې چې په دې لارښود کې د جواز او چکپاینټ قرارداد د تمدید غوښتونکی د دې لارښود مطابق په شرایطو برابر وي.

٤- په هغه صورت کې چې جواز لرونکی د ساختماني موادو کاري برنامه د تمدید مودې لپاره ترتیب کړې وي.

٥- په هغه صورت کې چې د چکپاینټ قرارداد لرونکی او جواز لرونکی تهعد وکړي چې د دې لارښود احکام رعایت کوي.

(٤) د کانونو ریاست مکلف دی چې په دې ماده کې د جواز او چکپاینټ قرارداد د ارزیابی گزارش د وزارت مقام ته د منظوری لپاره پیشنهاد کړي.

(٥) که چیرې د جواز او چکپاینټ قرارداد د تمدید غوښتنه د ارزیابی کمېټې لخوا تائید او د وزارت مقام لخوا منظور شي، د کانونو ولایتي ریاست مکلف دی چې جواز لرونکي او د چکپاینټ قرارداد لرونکی ته د دې لارښود د احکامو مطابق جواز او د چکپاینټ قرارداد د انقضاء د نېټې سره متصل تمدید کړي.

(٦) که چیرې د جواز او چکپاینټ قرارداد د تمدید غوښتنلیک او اسناد یې د ارزیابی کمېټې لخوا تائید شوي وي او د وزارت مقام لخوا یاد گزارش منظور یا رد نشي او جواز او د چکپاینټ قرارداد د انقضاء حالت کې وي، نافذ جواز او د چکپاینت قرارداد، د اعتبار وړ گڼل کیږي.

**<u>د جوازونو او چکپاینټ د قراردادونو تعداد</u>**

**پنځه ویشتمه ماده:**

(۱) یو شخص نه شي کولی چې په ټول هیواد او یو زمان کې د پنځو (۵) څخه زیات جوازونه او یا د چکپاینټ قراردادونه ترلاسه کړي مگر داچې د جواز اویا د چکپاینټ قراداد میعاد منقضي شي.

(۲) عام المنفعه پروژو لپاره حکمي اشخاص کولی شي له پنځو څخه زیات جوازونه ترلاسه کړي.

(۳) په هغه صورت کې چې جواز د پنځو هکتارو مساحت لپاره ورکول شوی وي، جواز لرونکی نشي کولی چې په همجوارو (مجاورو) ساحو کې یې د بل یا نورو جوازونو غوښتونکی شي.

(٤) د چکپیانټ قرارداد لرونکی، کولی چې په همجوارو ساحو (مسیرونو) کې یې د بل یا نورو قراردادونو غوښتونکی شي.

**<u>د ضمني او زیاتو منرالونو کشف او شمولیت</u>**

**شپږ ویشتمه ماده:**

(۱) د جواز په مندرجه ساحه کې چې هر ډول ساختماني مواد موجود وي، جواز لرونکی کولی شي په جواز کې یې د شمولیت غوښتنه وکړي.

(۲) د لومړۍ فقرې د تحقق په دې صورت کې د کانونو ولایتی ریاست مکلف دی، چې د جواز لرونکي کتبې غوښتنه او اسناد یې ارزیابی، ګزارش یې ترتیب او د د منظورۍ لپاره یې د وزارت مقام ته وړاندې کړي.

(۳) که چیرې د کان کیندنې په جریان کې د ساختماني موادو څخه پرته نور ضمني منرالونه کشف شي، جواز لرونکی مکلف دی چې د کانونو ولایتي ریاست ته ګزارش وړاندې کړي او نشي کولی چې په جواز کې د دغو ضمني منرالونو د شمولیت غوښتنه وکړي.

(٤) که چیرې د کان کیندنې په جریان کې د ساختماني موادو څخه بغیر نور ضمني منرالونه کشف شي او د کانونو ولایتي ریاست لخوا نسبت د ساختماني موادو څخه د کان کیدنې لپاره اقتصادي وګڼل وشي،د کانونو ولایتي ریاست مکلف دی، چې د نافذ جواز ملغاء کیدو لپاره وړاندیز ترتیب او د وزارت مقام ته یې د منظورۍ لپاره وړاندې کړي.

(٥) د دې مادې د دریمې فقرې د تحقق په صورت کې جواز لرونکی نشي کولی چې ساختماني موادو پرته د نورو منرالونو کان کیندنه ترسره کړي.

## د جواز څخه انصراف او د چکپاینټ قرارداد فسخه

**اووه ویشتمه ماده:**

(۱) جواز لرونکی کولی شي د کانونو ولایتي ریاست ته د کتبې غوښتنلیک په وړاندې کولو سره د جواز څخه په کلي توګه انصراف وکړي مشروط په دې چې موجه دلایل ولري او د دې لارښود احکام یې رعایت کړي وي.

(۲) د چکپاینټ قرارداد لرونکی کولی شي د کانونو ولایتي ریاست څخه د چکپاینټ قرارداد د فسخې کتبې غوښتنه وکړي مشروط په دې چې موجه دلایل ولري او د د دې لارښود احکام یې رعایت کړي وي.

(۳) د کانونو ولایتي ریاست مکلف دی، چې د جواز څخه د انصراف او د چکپاینټ د قرارداد د فسخې غوښتنه د (٥) کاري ورځو په جریان کې بررسي، ارزیابي او ګزارش یې ترتیب او د منظورۍ لپاره یې د وزارت مقام ته وړاندې کړي.

(٤) که چیرې د جواز لرونکو یا د چکپاینټ د قرارداد لرونکو په مختلفو ساحو کې درې (۳) ځلي په کلي توګه انصراف وکړي په دې صورت کې دایماً نشي کولی چې د جواز اخیستلو او یا د چکپاینټ قرارداد په داوطلبي کې ګډون وکړي او د جواز او د چکپاینټ قرارداد د اخیستول څخه دایماً محروم ګڼل کیږي.

(٥) د جواز ساحې څخه د کلې انصراف په صورت کې جواز ملغاء کیږي.

## مؤقت معافیت

**اته ویشتمه ماده:**

(۱) جواز لرونکی کولی شي چې د کانونو ولایتي ریاست ته د غوښتنلیک په وړاندې کولو سره د لاندینیو شرایطو په موجودیت کې د جواز د مندرجو شرایطو او تعهداتو د اجراء څخه د مؤقت معافیت غوښتنه وکړي.

۱- د غیر مترقبه حالاتو او حوادثو د واقع کیدو په صورت کې.

۲- د تاریخي او فرهنګي اثارو د کشفیدو په صورت کې.

۳- کان کیندنه ورته غیر اقتصادي وي مګر دا تصور موجود وي چې راتلونکي ته په اقتصادي بدلیږي.

(۲) د کانونو ولایتي ریاست مکلف ده چې د مؤقت معافیت دلایل او اسناد بررسي، ارزیابي، تائید یا رد کړي او ګزارش یې ترتیب او د منظورۍ لپاره یې د وزارت مقام ته پیشنهاد کړي.

(۳) مؤقت معافیت په هر کال کې د دوو (۲) میاشتو څخه نشي زیات کیدای.

(٤) د کانونو ولايتي رياست مکلف دی، چې د جواز د مندرجو شرايطو او تعهداتو د اجراء څخه مؤقت معافيت د دې مادې د احکامو مطابق اعطاء کړي.

(٥) د چکپاينټ قرارداد لرونکی نشي کولی په هيڅ صورت کې د مؤقت معافيت غوښتنه وکړي او د کانونو ولايتي رياست نشي کولی په هيڅ صورت کې د چکپاينټ قرارداد لرونکي ته مؤقت معافيت ورکړي.

**د تاريخي او فرهنگي اثارو کشف**

**نهه ويشتمه ماده:**

(۱) که چیرې د ساختماني موادو د کان کیندنې په جريان کې د جواز په مندرجه ساحه کې تاريخي او فرهنگي اثار کشف شي، جواز لرونکی مکلف دی چې د (۳) ورځو په جريان کې د کانونو ولايتي رياست ته رسماً اطلاع ورکړي او د کان کيندنې فعاليتونه ودروي.

(۲) د دې مادې د لومړې فقرې د تحقق په صورت کې د کانونو ولايتي رياست مکلف دی چې د (۳) کارې ورځو په جريان کې د اطلاعاتو او فرهنگ ولايتي رياست ته د لازمو اجراااتو لپاره خبرتيا ورکړي.

(۳) جواز لرونکی نشي کولی د جواز په مندرجه ساحه کې د تاريخي او فرهنگی اثارو د کشف په صورت کې د کان کيندنې فعاليتونو ته ادامه ورکړي مگر دا چې د اطلاعاتو او فرهنگی ولايتي رياست او د کانونو ولايتي رياست تائيدي يې ترلاسه کړي.

**د تاسيساتو اعمارول**

**ديرشمه ماده:**

جواز لرونکی کولی شي هغه تاسيسات چې د ساختماني موادو کان کيندنې فعاليتونو لپاره ضروري وي اعمار کړي مگر داچې تقنيني اسنادو د هغې اعمارول منع کړي وي.

**د کان بيارغونه**

**يو ديرشمه ماده:**

(۱) جواز لرونکی مکلف دی چې د کان د بيا رغونې (احيای مجدد) برخه کې د ژوند چاپيريال ساتنې تقنيني اسناد او معيارونه رعايت کړي.

(۲) جواز لرونکی مکلف دی چې د جواز د انقضاء، ملغاء او د انصراف په صورتونو کې په خپل لگښت د جواز مندرجه ساحه بيا ورغوي او د کانونو ولايتي رياست ته کتبا گزارش وړاندې او ياده ساحه رسماً ورتسليم کړي.

(۳) د کانونو ولايتي رياست مکلف دی، چې د دې لارښود د احکامو مطابق د جواز مندرجې ساحې د بيا رغونې څخه اطمينان حاصل کړي.

**د ساختمانی موادو کاري برنامه**

**دوه ديرشمه ماده:**

(۱) د جواز داوطلب او متقاضي مکلف دی د ساختماني موادو کاري برنامه د شرط نامې د اخيستلو وروسته چې لاندې موارد پکې شامل دي ترتيب کړي.

۱- ساختماني موادو د استخراج تخميني محاسبه.

۲- د گټې اخيستنې فعاليتونو پروگرام چې داوطلب يا متقاضي د جواز په ساحه کې د هغه ترسره کولو ته ژمن دی او د لاندينيو موارد‌و ته شامليږي:

Islamic Emirate of Afghanistan
وزارت معادن و پترولیم
MINISTRY OF MINES AND PETROLEUM
رياست دفتر مقام

- د ګټې اخیستنې د فعالیتونو ډول او محدودیت.
- د ګټې اخیستنې فعالیتونو د وخت او مودې چوکاټ.
- د ګټې اخیستنې د فعالیتونو پورې اړوند لګښتونه.
- د ساختماني موادو څخه د ګټې اخیستنې لپاره اړینې زیربناوو جوړول.
- د کاډستري نقشې او کوردیناتو د په پام کې نیولو سره د ساحې وضعیت تشریح کول.
- نور هغه موارد چې د ساختماني موادو څخه د ګټې اخیستنې او کان کیندنې لپاره اړین وګڼل شي.

۳- د روغتیا او خوندیتوب تدابیر چې لاندې موارد پکې شامل دي:
- د کارمندانو او نورو اشخاصو د حفاظت، روغتیا او خوندیتوب.
- د کار د تقنیني اسنادو رعایتول.
- د روغتیا او خوندیتوب لپاره پوهنیزې برنامې په لار اچول.
- د وسایلو او تجهیزاتو د ساتنې او استفادې څرنګوالی.
- د هرنوع خطراتو د واقع کیدل.
- د حادثاتو د واقع کیدل.
- د منفجره موادو د حفاظت او مدیریت.
- د اضطراري حالاتو مخنیوي.
- د کان کیندنې د پرسونل لپاره د روغتیا او خوندیتوب د خدمات.
- نور اړونده موارد چې د روغتیا او خوندیتوب لپاره لازمه ګڼل کیږي.

۴- د سیمه ایزو ګټو تدابیر چې لاندې موارد پکې شامل دي:
- د استخدام معیارونو ته په کتو د سیمې خلکو ته استخدام برخه کې لومړیتوب ورکول.
- د کان کیندنې برخه کې د محلي اجناسو، تجهیزاتو، تولیداتو او خدماتو څخه ګټه اخیستنه مشروط پر دې چې مناسب قیمت ورته ولري.

۵- د چاپیریال ساتنې لپاره تدابیر چې لاندې موارد پکې شامل دي:
- د محل د چاپیریال وضعیت شرحه، څیړنه او بررسي چې د ساختماني موادو د کان کیندنې څخه متاثره کیږي.
- د چاپیریال ساتنې د بالقوه تاثیرات.
- د چاپیریال ساتنې منفی اثراتو تحلیل او بررسي.
- د هوا، اوبو او خاورو د ساتنې او ګټې اخیستنې موثر روشونو پیژندنه.
- د چاپیریال د منفی اثراتو د مخنیوی، کمولو او رفع کول او بهبود ورکول.
- د معدن د بیا رغونه(احیای مجدد).
- د چاپیریال د منفی اثراتو د مخنیوي، کمولو او د ساحې د بیا رغونې او د خسارې د جبران لپاره د مصارفو تشخیص او سنجونه.
- د چاپیریال ساتنې اړونده تقنیني اسنادو مطابق نور لازم موارد او مشخصات.

(۲) جواز لرونکی مکلف دی چې د ساختماني موادو تائید شوې کاري برنامه تطبیق او رعایت کړي.

# پنځم فصل

## عواید، مالیات، او څارنه

**د عوایدو تحویلول**

**دري دیرشمه ماده:**

(۱) د جواز او د چکپاینټ قرارداد له اړخه ټول عواید د امارت حساب ( د وزارت بانکې حساب) ته د افغانیو په پولې واحد سره تحویلیږي.

(۲) جواز لرونکی او د چکپاینټ قرارداد لرونکی مکلف دی چې د ساختماني موادو د کان کیندنې او د چکپاینټ قرارداد عواید په ټاکلي وخت د امارت حساب (وزارت بانکې حساب) ته تحویل کړي.

(۳) د کانونو ولایتي ریاست مکلف دی چې د ساختماني موادو د کان کیندنې جواز او د چکپاینټ قرارداد عواید د دې لارښود د احکامو مطابق په ټاکلي وخت راټول کړي.

(٤) جواز لرونکی او د چکپاینټ قرارداد لرونکی مکلف دی چې د وزارت بانکې حساب ته تحویل شوو عوایدو سند د کانونو ولایتي ریاست ته تسلیم کړي.

**حق الزحمه (فیس)**

**څلور دیرشمه ماده:**

(۱) د جواز ګټونکی داوطلب او د جواز متقاضي مکلف دی چې د جواز د صدور څخه مخکې، پنځلس زره (۱۵۰۰۰) افغانی د جواز حق الزحمې(فیس) په توګه د کانونو ریاست اړونده تعرفې(سند) په ذریعه امارتي حساب (د وزارت بانکې حساب ) ته تحویل کړي.

(۲) جواز تمدید غوښتونکی مکلف دی چې د هر بار تمدید په صورت کې د تمدید څخه مخکې پنځه لس زره (۱۵۰۰۰) افغانی د حق الزحمې (فیس) په توګه د کانونو ریاست اړونده تعرفې(سند) په ذریعه امارتي حساب( وزارت بانکې حساب )ته تحویل کړي.

**رویالټي او د چکپاینټ محصول**

**پنځه دیرشمه ماده:**

(۱) جواز لرونکی مکلف دی چې د جواز له مخې د استخراج شوو ساختماني موادو رویالټې د هر متر مکعب په بدل کې دیرش (۳۰) افغانی د رویالټي په توګه د جواز د هرې میاشتې په پای کې د لسو ورځو په جریان کې د کانونو ولایتي ریاست اړونده تعرفې(سند) په ذریعه امارتي حساب (د وزارت بانکې حساب) ته تحویل کړي.

(۲) د چکپاینټ قرارداد لرونکی مکلف دی چې صرفاً یو ځلې د فې متر مکعب ساختمانی موادو د انتقالونکې څخه دیرش (۳۰) افغانی د چکپاینټ محصول ترلاسه کړي چې له دې مقدار څخه زیاتې پیسې اخیستل منع دي.

(۳) د چک پاینټ قرارداد لرونکی نشي کولی چې د ساختمانی موادو د کان کیندنې د جواز لرونکې له لوري چې ساختماني مواد انتقالیږي، د چکپاینټ محصول ترلاسه کړي.

(٤) د چک پاینټ قرارداد لرونکی نشي کولی چې د هغه اشخاصو څخه د چکپاینټ محصول واخلي چې په دې رهنمود او د ساختماني موادو په تفاهمنامه کې د رویالټۍ معافیت ورکړل شوی.

(٥) که چیرې د ساختماني موادو د انتقالونکی، په یو چکپاینټ کې محصول ورکړی وي او د محصول د ورکړې سند( تعرفه ) له ځان سرهولري، په بل چکپاینټ کې ترې محصول نه اخیستل کیږي.

**د رویالټۍ معافیت**

**شپږ دیرشمه ماده:**

(۱) د ساختماني موادو د تفاهمنامې د اوومې مادې د لومړی فقرې بندونو کې هغه عام المنفعه پروژو(جوماتونو، مدرسو، ښوونځیو، دارالایتامونو، کلینیکونو، روغتونونو، استنادي دیوالونو، چیک ډیمونو، نورې هر ډول عام المنفعه پروژو) او کورونو، ودانیو او تعمیرونو جوړولو کې چې هرخومره ساختماني مواد استفاده کیږي په هغه صورت کې د رویالټۍ او د چکپاینټ محصول د تحویلولو څخه معاف دي چې د حقیقي اشخاصو لخوا په په تبرعي، خیریه پیسو یا جمعي توګه جوړیدونکي وي او تجارتي جنبه ونلري.

(۲) که چیرې عام المنفعه پروژې د امارتي ادارو د قراردادیانو لخوا جوړیږي او امارتي ادارو په دغو پروژو کې د ساختماني موادو د رویالټۍ قیمت د قراردادي څخه منفي(کسر)کړي، قراردادي د رویالټۍ په تحویلولو مکلف نه دی او رویالټۍ یې معاف ده.

(۳) که چیرې په دې ماده کې عالم المنفعه پروژې او شخصي ودانی د حکمي اشخاصو(د امارتي ادارو او د موسساتو د قراردادیانو لخوا یا د دوی په مصارفو ) جوړیږي او د لومړې او دویمو فقرو شرایطو درلودونکي نه وي حکمي شخص مکلف دی چې جواز واخلي او رویالټۍ یې تحویل او یا د چکپاینټ محصول د دې رهنمود د احکامو مطابق تحویل کړي.

(٤) د دې مادې لومړې فقرې کې عام المنفعه پروژو ترسره کوونکي باید د اړونده ادارو لخوا تائید شوي سند له ځان سره ولري.

**د چکپاینټ قرارداد حق الاجاره**

**اوه دیرشمه ماده:**

(۱) د کانونو ولایتي ریاست مکلف دی چې د چکپاینټ قرارداد لپاره په کلنې ډول د حق الاجارې مقدار تشخیص، تخمین او تثبیت کړي او د داوطلبي په اعلان او قرارداد کې یې درج کړي.

(۲) د چکپاینټ قرارداد لرونکی مکلف دی چې په قرارداد کې مندرجه حق الاجاره په ربع وار ډول د هرې ربعې د شروع څخه مخکې د کانونو ولایتي ریاست د سند(تعرفې) په ذریعه امارتي حساب ( د وزارت بانکي حساب ) ته تحویل کړي.

(۳) د چکپاینټ قرارداد د تمدید مودې لپاره هم د دې مادې احکام د تطبیق وړ دي.

**د ځمکې د سطحې حق الاجاره**

**اته دیرشمه ماده:**

(۱) د جواز ګټونکی داوطلب او د جواز متقاضي مکلف دی، چې په کلنې ډول د جواز د صدور څخه مخکې د هر هکتار ځمکې په مقابل کې دوه زره (۲۰۰۰) افغانی د ځمکې د سطحې حق الاجارې په توګه د کانونو ولایتي ریاست د تعرفې(سند) په ذریعه امارتي حساب (د وزارت بانکي حساب ) ته تحویل کړي.

(۲) که چیرې د جواز مندرجې ساحې ځمکه، مالک یا شرعی متصرف لرونکی وي د کانونو ولایتي ریاست مکلف دی چې د ځمکې د سطحې حق الاجاره د جواز لرونکي څخه تر لاسه او د ځمکی شرعي متصرف یا مالک ته ېې ورکړي.

Islamic Emirate of Afghanistan
د کانونو او پټرولیم وزارت
MINISTRY OF MINES AND PETROLEUM
ریاست دارالانشاء مقام

(۳) د جواز د تمدید مودو لپاره هم د همدې مادې احکام د تطبیق وړ دي.

**ضمانتونه**

**نهه دیرشمه ماده:**

(۱) د جواز ګټونکی داوطلب او د جواز متقاضي مکلف دی، چې د جواز د اخیستلو څخه مخکې د هر هکتار ځمکې په مقابل کې دیرش زره (۳۰۰۰۰) افغانی د ژوند چاپیریال د تضمین په توګه د کانونو ولایتي ریاست اړونده تعرفې(سند) په ذریعه د وزارت بانکې حساب ته تحویل کړي.

(۲) د جواز ګټونکی داوطلب او د جواز متقاضي مکلف دی چې د جواز د اخیستلو څخه مخکې د هر هکتار ځمکې په مقابل کې پنځه لس زره (۱۵۰۰۰) افغانی د تعهداتو د حسن اجراء د تضمین په توګه د کانونو ولایتي ریاست اړونده تعرفې(سند) په ذریعه د وزارت بانکې حساب ته تحویل کړي.

(۳) د چکپاینټ قرارداد ګټونکی داوطلب مکلف دی چې د قرارداد عقدولو او ثبت څخه مخکې د قرارداد د حق الاجارې د لس (۱۰) فیصدو په اندازه د تعهداتو د حسن اجراء تضمین په توګه د کانونو ولایتي ریاست اړونده تعرفې(سند) په ذریعه د وزارت بانکې حساب ته تحویل کړي.

(٤) که چیرې جواز لرونکی، او د چکپاینټ قرارداد لرونکی، د دې لارښود احکام او په جواز او قراداد کې مندرج شرایط او مکلفیتونه رعایت کړي وي د دې مادې مندرج ضمانتونه، د جواز انقضاء کیدو او د لغوه کیدو، څخه وروسته د (۳۰) کارې ورځو په جریان کې بیرته جواز لرونکي او قرارداد لرونکي ته ورکول کیږي.

(٥) که چیرې جواز لرونکی، او د چکپاینټ قرارداد لرونکی، د دې لارښود احکام او په جواز او قراداد کې مندرج شرایط او مکلفیتونه رعایت کړي نه وي د دې مادې مندرج ضمانتونه، د جواز انقضاء کیدو او د لغوه کیدو په صورت کې جواز لرونکي او د چکپاینټ قرارداد لرونکي ته نه ورکول کیږي او د تصفیه حساب لپاره لازم اجراات ورسره کیږي.

(٦) د جواز او چکپاینټ د تمدید مودو لپاره هم د همدې مادې احکام د تطبیق وړ دي.

(۷) په دې ماده کې د مندرجو ضمانتونو څخه علاوه د جواز او د چکپاینټ قرارداد د ورکړې او داوطلبي پروسو لپاره نور ضمناتونه الزامي ندي او نه اخیستل کیږي.

**مالیاتي امور**

**څلویښتمه ماده:**

جواز لرونکی او دچکپاینټ قرارداد لرونکی مکلف دی چې د مالیې وزارت اړوند د تقنیني اسناد احکام رعایت کړي.

**ولایتي انکشافي صندوق**

**یو څلویښتمه ماده:**

د ساختماني موادو د کان کیندنې او د چکپاینټ قرارداد د تحویل شویو عوایدو څخه (۸) فیصده عواید د اړونده ولایت ولایتي انکشافي صندوق ته تخصیص او ورکول کیږي، چې د مصرف څرنګوالی یې د اړونده تقنیني اسنادو مطابق تنظیمیږي.

Islamic Emirate of Afghanistan 14 00
وزارت معادن و پټرولیم
MINISTRY OF MINES AND PETROLEUM
ریاست دفتر مقام

**د چکپاینټ قرارداد د محصول کتابچې**

**دوه څلویښتمه ماده:**

(۱) د چکپاینټ قرارداد د محصول کتابچې چې ورقې یې پر له پسې شمیرې او لازم مشخصات لرونکي دي، د عوایدو تنظیم ریاست لخوا په واحده بڼه ترتیب او چاپ کیږي چې د چک پاینټ قرارداد لرونکي ته هره کتابچه د معین مقدار قیمت په بدل ورکول کیږي.

(۲) د چکپاینټ د محصول کتابچې هره صفحه درې نقله لري، یو نقل یې د ساختماني موادو انتقالونکي ته ورکول کیږي، یو نقل یې د چک پاینټ قرارداد لرونکي ساتل کیږي او دریم نقل یې د محصول اخیستلو وروسته د کانونو ولایتي ریاست ته لیږل کیږي.

(۳) د چکپاینټ قراردادې مکلف دی چې د انتقالوونکي شخص، د ساختماني موادو او د محصول جزئیات د یادې کتابچې درې گونو ورقو کې درج کړي.

**تفتیش او څارنه**

**دري څلویښتمه ماده:**

(۱) کانونو ولایتي ریاست مکلف دی چې د ساختماني موادو د کان کیندنې او د چکپاینټ قرارداد د فعالیتونو او د دې لارښود او د جواز مندرج شرایطو د تطبیق او عدم تطبیق څخه څارنه ترسره او گزارش یې ترتیب کړي او د وزارت د کانونو تخنیکي تفتیش ریاست یې ته واستوي.

(۲) د وزارت مقام کولی شي چې د وزارت مرکزي ریاستونه څخه مسلکي او تخنیکي هیات د ساختماني موادو د کان کیندنې او چکپاینټ قرارداد د فعالیتونو د تفتیش او څارنې لپاره توظیف او واستوي.

(۳) د چک پاینټونو فعالیتونه او اجراات لاندې مواردو ته په کتو هم تفتیش او بررسي کیږي:

۱- تشخیص شي چې د کومو ساحاتو څخه ساختماني مواد، استخراج او انتقالیږي.

۲- تشخیص شي چې د چکپاینټونو له اړخه عواید زیات ترلاسه کیږی او که د جواز له اړخه.

۳- چک پاینټونو قرارداد موثریت او غیر موثریت په اړه د ټولنې او محل خلکو نظریات او وړاندیزونه ترلاسه شي.

۴- د چک پاینټونو د قرارداد له اړخه د چاپیریال ساتنې، ټولنیزو، عامه گټو او نورو تخنیکي شرایطو، منفي(سوء) اثرات تشخیص شي.

(٤) که چیرې د چک پاینټ قرارداد له اړخه د چاپیریال ساتنې، ټولنیزو ، عامه گټو او نورو تخنیکي شرایطو ته په کتو، زیانونه رامنځ ته کیږي، د کانونو ولایتي ریاست مکلف دی چې ژر تر ژره موضوع تشخیص او یاد منفي اثرات او ستونزې رفع، حل او رسیدگې ورته وکړي.

(۵) که چیرې د دې مادې د احکامو مطابق منفي اثرات او ستونزې د تقنیني اسنادو په رڼا کې د حل او رفع کیدو وړ نه وې، د کانونو ولایتي ریاست مکلف دی چې د چکپاینټ قرارداد فسخه کولو پیشنهاد د وزارت مقام ته د منظورۍ لپاره وړاندې کړي.

(٦) که چیرې د دې مادې د احکامو مطابق تشخیص شي چې د چکپاینټونو له اړخه عواید نسبت د ساختماني موادو د کان کیندنې جوازونو ته کم دي، جوازونو ورکولو ته لومړیتوب ورکول کیږي.

(۷) د ساختماني موادو د کان کیندنې او چکپاینټ قرارداد د فعالیتونو او اجرااتو د تفتیش او څارنې برخه کې د کانونو تخنیکي تفتیش او نورو اړونده رهنمودونو احکام هم د تطبیق وړ دي.

## شپږم فصل

## ثبت او معاملات

<u>ثبت او نشر</u>

**څلور څلویښتمه ماده:**

(۱) د کانونو ولایتي ریاست مکلف دی چې د ساختماني موادو د جواز، جواز لرونکو، د چکپاینټ قرارداد او قرداد لرونکو او داوطلبي پروسو او د جواز او قرارداد د ورکړې اړوند ټول مشخصات، فعالیتونه او اجرات یې د ثبت په فزیکي دفتر کې ثبت کړي.

(۲) د وزارت د جیولوجیکی معلوماتو د مدیریت عمومي ریاست مکلف دی چې د اړونده اصولو او لارښود مطابق د ساختماني موادو ساحات او جیولوجیکی لازم معلومات او په دې ماده کې مندرج مشخصات او فعالیتونه د ثبت په ډیجتلي په دفتر کې ثبت کړي.

(۳) د ساختماني موادو د کان کیندنې او چکپاینټ قرارداد د اسنادو او معلوماتو ثبت په برخه کې د اړونده رهنمود/طرز العمل احکام هم د تطبیق وړ دي.

(٤) د کانونو ولایتي ریاست مکلف دی چې د جواز، جواز لرونکو، د چکپاینټ قرارداد او قرداد لرونکو او داوطلبي پروسو اړوند لازم مشخصات، اړونده محلي ویبسایت او رسنیو کې نشر کړي.

<u>د اسنادو او معلوماتو ساتنه</u>

**پنځه څلویښتمه ماده:**

د کانونو ولایتي ریاست، داوطلب، متقاضي، جواز لرونکی او د چک پاینټ قرارداد لرونکی مکلف دي چې د داوطلبي، جواز ،د کان کیندنې فعالیتونو، د چکپاینټ قرارداد او نور اړونده ټول اسناد او معلومات د جواز او چکپاینټ قراداد د انقضاء، لغوې، او فسخې څخه وروسته د (۵) کلونو لپاره حفظ او وساتي.

<u>د کادستري سروې نقشه</u>

**شپږ څلویښتمه ماده:**

د کانونو ولایتي ریاست مکلف دی چې ساختنمانی موادو د کادستري سروی نقشه د اړونده معیارونو او اصولو ته په کتو ترتیب، او وساتي.

<u>په کنټرول کې بدلون</u>

**اووه څلویښتمه ماده:**

(۱) که چیری د جواز لرونکي او د چکپاینټ قراداد په کنټرول کې بدلون راشي جواز لرونکی او قرارداد لرونکی مکلف دی چې کانونو ولایتي ریاست ته اطلاع ورکړي.

(۲) د کانونو ولایتي ریاست مکلف دی چې جواز او قراداد په کنټرول کې د بدلون غوښتلیک او اړونده اسناد یې (۵) ورځو په جریان کې بررسي او ارزیابي کړي او گزارش یې د منظوری لپاره د وزارت مقام ته وړاندې کړي.

(۳) د کانونو ولایتي ریاست په هغه صورت کې د جواز لرونکي او چک پاینټ قراداد په کنټرول کې بدلون تائیدوي چې جواز لرونکی او قرارداد لرونکي د دې لارښود احکام او د جواز او چکپاینټ قرارداد کې یې مندرج شرایط او مکلفیتونه رعایت کړې وي.

**د جواز او د چکپاینټ قرارداد یا یې د ګټې لیږدونه**

**اته څلویښتمه ماده:**

(۱) د جواز او چکپاینټ قرارداد یا یې د ګټې لیږدونه په هغه صورت کې بل شخص ته کیدلای شی چې:

۱- د وزارت مقام منظورې یې ترلاسه کړې وي.

۲- جواز لرونکې او قرارداد لرونکي د دې لارښود او د جواز او قرارداد کې مندرج شرایط او مکلفیتونه یې رعایت کړي وي.

۳- کوم شخص ته چې جواز او قرارداد لیږدول کیږي په دې لارښود کې د مندرجو شرایطو سره برابر او احکام یې رعایت کړي.

(۲) د کانونو ولایتي ریاست مکلف دی چې جواز او چکپاینټ قراداد یا یې د ګټې لیږدولو غوښتنلیک او اړونده اسناد یې د (۵) ورځو په جریان کې بررسي او ارزیابي کړي او ګزارش یې د منظورۍ لپاره د وزارت مقام ته وړاندې کړي.

**ذینفع مالکیت کې بدلون**

**نهه څلویښتمه ماده:**

جواز لرونکی مکلف دی چې د ذینفع په مالکیت کې د بدلون په صورت کې د (۵) ورځو په جریان کې د کانونو ولایتي ریاست ته رسماً اطلاع ورکړي.

**انتقالي حکمونه**

**پنځوسمه ماده:**

(۱) که چیرې د دې رهنمود د انفاذ څخه مخکې د ساختماني موادو د کان کیندنې ، جوازونه، ، اجازه لیکونه، او یا د چک پاینټ قراردادونه حکمي یا حقیقي اشخاصو ته ورکړل شوي وي د  دې رهنمود د احکامو تابع دي.

(۲) که چیرې د دې لارښود د انفاذ څخه مخکې د ساختماني موادو د کان کیندنې اجازه لیکونو، او یا د چک پاینټ قراردادونه ورکولو لپاره د داوطلبي پروسه شروع خو تکمیل شوې نه وي او یا یې د وزارت منظوري ترلاسه کړې نه وي، د دې لارښود د احکامو مطابق جواز او د چک پاینټ قرارداد ورته ورکول کیږي.

**د خسارې جبرانول**

**یو پنځوسمه ماده:**

د ساختماني موادو د کان کیندنې برخه کې خسارې جبرانوال د اړونده رهنمود/طرز العمل احکامو مطابق ترسره کیږي.

**د جواز او چکپاینټ قرارداد لغوه او فسخه**

**دوه پنځوسمه ماده:**

(۱) په دې رهنمود کې د تخلفاتو ترسره کولو څخه علاوه، جواز په لاندینیو حالاتو کې د وزارت مقام د منظورۍ وروسته لغوه کیږي:

۱- په هغه صورت کې چې د جواز مندرج میعاد پای(انقضاء) ته ورسیږي.

۲- په هغه صورت کې چې د جواز لرونکي لخوا د جواز څخه په کلي توګه انصراف غوښتنه وشي.

۳- په هغه صورت کې چې د جواز لرونکي په غوښتنه د جواز په مندرجه ساحه کې د ساختماني موادو ذخیره ختمه شوې وي.

(۲) د په دې رهنمود کې د تخلفاتو د ترسره کولو څخه علاوه د چکپاینټ قرارداد په لاندینیو حالاتو کې د وزارت مقام د منظورۍ وروسته فسخه ګڼل کیږي:

۱- په هغه صورت کې چې د چکپاینټ قرارداد میعاد منقضي شي.

۲- په هغه صورت کې چې قرارداد لرونکی د دې رهنمود د احکامو مطابق په خپله خوښه د قرارداد د فسخې کتبې غوښتنه وکړي.

**تخلفات او عدلي تعقیب**

**دري پنځوسمه ماده:**

(۱) لاندې موارد د دې لارښود د احکامو څخه تخلفات ګڼل کیږي:

۱- په هغه صورت کې چې جواز لرونکی د یوې میشاتې رویالټي د بلې میشاتې په جریان کې تحویل نکړي.

۲- په هغه صورت کې چې د چکپاینټ قرارداد لرونکی د چکپاینټ قرارداد د یوې ربعې حق الاجاره د دویمې ربعې په جریان کې تحویل نکړي.

۳- په هغه صورت کې چې جواز لرونکی د ساختماني موادو کاري برنامه تطبیق نکړي.

٤- په هغه صورت کې چې جواز لرونکی د تاریخي او فرهنګي اثارو د کشف ګزارش د کانونو ولایتي ریاست ته ورنکړي.

٥- په هغه صورت کې چې جواز لرونکی د موجه دلایلو پرته، د دریبو میاشتو څخه زیات د ساختماني موادو معدنکارۍ فعالیتونو ته توقف ورکړي.

٦- په هغه صورت کې چې جواز لرونکی او د چکپاینټ قرارداد لرونکی د شرایطو برابر والي شرایط له لاسه ورکړي وي ولی د کانونو ولایتي ریاست ته کتبي اطلاع ورنکړي.

۷- په هغه صورت کې چې جواز لرونکی او د چکپاینټ قرارداد لرونکی د دریبو میاشتو په جریان کې د جواز او قرارداد د تعلیق موارد رفع نکړي.

۸- په هغه صورت کې چې جواز لرونکی رویالټي، د ځمکې د سطحې حق الاجاره د جواز تر انقضاء یا انصراف نیټې پورې تحویل نکړي.

۹- په هغه صورت کې چې د چکپاینټ قرارداد لرونکی په دې لارښود کې د ټاکلي اندازې څخه زیات محصول د ساختماني موادو د انتقالونکي څخه ترلاسه کړي.

۱۰- په هغه صورت کې چې جواز لرونکی د جواز د میعاد د انقضاء نیټې وروسته یا د جواز د انصراف وروسته د ساختماني موادو کان کیندنې ترسره کړې وي.

۱۱- په هغه صورت کې جواز لرونکی او د چکپاینټ قرارداد لرونکی په عمدي توګه غلط او جعلي اسناد او معلومات وزارت (د کانونو ولایتي ریاست ) ته وړاندې کړي.

۱۲- په هغه صورت کې چې جواز لرونکی د ساختماني موادو د کان کیندنې جواز مندرجه ساحه کې د ساختماني موادو څخه علاوه نور منرالونه کشف او معدنکاری یې ترسره او یا یې انتقال، خرڅ او تجارتي معامله پرې وکړي.

۱۳- په هغه صورت کې چې د چکپاینټ قرارداد لرونکی د ساختماني موادو د انتقالونکي څخه چې د جواز مطابق یا د دې رهنمود د احکامو مطابق یې استخراج کړي وي د چکپاینټ قرارداد محصول واخلي.

۱۴- په هغه صورت کې چې شخص د دې لارښود د احکامو خلاف ساختماني موادو د عوایدو راټولو لپاره چکپاینټ ایجاد کړي یا د قرارداد پرته په هره طریقه د ساختماني موادو د چکپاینټ عواید او محصول راټول کړي.

۱۵- په هغه صورت کې چې جواز لرونکی غیر قانوني معدنکاري ترسره کړي.

(۲) د دې مادې د اولې فقرې د (۱،۲،۳،۴،۵،۶) اجزاو د تخلفاتو د ترسره کیدو صورت کې جواز او د چکپاینټ قرارداد تعلیق کیږي.

(۳) د دې مادې د اولې فقرې د (۷،۸،۹،۱۰،۱۱،۱۲،۱۳،۱۴،۱۵) اجزاو د تخلفاتو د ترسره کیدو صورت کې جواز لغوه او د چکپاینټ قرارداد فسخه او متخلف تر قضایی تعقیب لاندې نیول کیږي.

## اووم فصل

## وروستي حکمونه

**د خاوره او د خاورینو خښتو بټۍ**

**څلور پنځوسمه ماده:**

(۱) خاوره ساختماني مواد نه ګڼل کیږي او د استخراج او ګټې اخیستنې لپاره یې د ساختماني موادو د کان کیندنې جواز نه صادریږي همدارنګه رویالټي او د چکپاینټ محصول ترې نه اخیستل کیږي.

(۲) هغه اشخاص چې د خاورو څخه په خاورینو د خښتو بټیو یا نورو عمراني کارو کې ګټه پورته کوي رویالټي او د چکپاینټ محصول ترې نه اخیستل کیږي

**د پروسس فعالیتونه**

**پنځه پنځوسمه ماده:**

جواز لرونکی کولی شي د اړونده طرز العمل/رهنمود د احکامو مطابق د ساختماني موادو پروسس(ریګریشن) فعالیتونه ترسره کړي.

**د ساختمانی موادو غیر قانوني کان کیندنه**

**شپږ پنځوسمه ماده:**

(۱) د کانونو ریاست مکلف دی چې د دې لارښود له انفاذ څخه وروسته د مالي کال د هرې ربعې په اخر کې د ساختماني موادو د غیر قانوني کان کیندنې فعالیتونه تثبیت او تشخیص کړي.

(۲) د ساختماني موادو د غیر قانوني کان کیدنې او فعالیتونو برخه کې د دې لارښود او د کانونو د ساتنې کمېټې د طرز العمل مطابق اجراات کیږي.

**شکایات**

**اووه پنځوسمه ماده:**

(۱) داوطلب، متقاضی، جواز لرونکی او قرارداد لرونکی کولی شي د موجه دلایل په وړاندې کولو سره خپل شکایات د کانونو ولایتي ریاست ته په کتبي توګه وړاندې کړي.

(۲) بایلونکې داوطلب مکلف دی چې د ګټونکې داوطلب د اعلان د مودې د پای وروسته د (۲) کاري ورځو په جریان کې خپل شکایت د کانونو ولایتي ریاست ته کتباً وړاندې کړي.

Islamic Emirate of Afghanistan
د کانونو او پټرولیم وزارت
وزارت معادن و پترولیم
1400
ریاست دفتر مقام

(۳) د کانونو ریاست مکلف دی چې د شاکي شکایت ته د تقنیني اسنادو، اصولو او د دې لاربسود د احکامو په رڼا کې رسیدګي وکړي.

**د منازعاتو حل او فصل**

**اته پنځوسمه ماده:**

(۱) د جواز لرونکي، چک پاینټ قرارداد لرونکي، وزارت او نورو اشخاصو ترمنځ د ساختماني موادو د کان کیندنې فعالیتونو او د چکاپاینټ قرارداد له اړخه د منازعاتو حل او فصل طریقه په جواز او د چک پاینټ په قرارداد کې درج او د کانونو ولایتي ریاست یا د وزارت ذیصلاح ریاست له طریقه حل او فصل کیږي.

(۲) که چیرې د جواز لرونکي، کانونو ولایتي ریاست او نورو ذیدخلو حکمي او حقیقي اشخاصو ترمنځ د جواز، د کان کیندنې فعالیتونو، د چکپاینټ قرارداد او دې اړخه هر ډول منازعات د دې لاربسود مطابق د حل او فصل وړ نه وي د افغانستان د تجارتي محاکمو او اصولو مطابق حل او فصل کیږي.

(۳) د کان کیندنې او چکپاینټ قرارداد له اړخه ټول منازعات، د دې رهنمود، د منازعاتو د حل او فصل رهنمود او د اسلامي شرعیت احکامو په رڼا کې حل او فصل کیږي.

**تعدیل**

**نهه پنځوسمه ماده:**

دا لاربسود د جدي اړتیا په صورت کې تعدیل کیدلای شي.

**تناقض**

**شپیتمه ماده:**

که چیری د دې لاربسود احکام د معتبرو نافذه تقنیني اسنادو سره په ټکر کې راشي، معتبرو نافذه تقنیني اسنادو ته ترجیح ورکول کیږي.

**انفاذ**

**یو شپیتمه ماده:**

دغه لاربسود په (۷) فصلونو او (۶۱) مادو په قید کې ترتیب او د وزارت مقام د منظورۍ له نیټې سره سم نافذه ګڼل کیږي او د دې لاربسود د انفاذ سره سم د ۱۴۴۴/۱۲/۲۴ هـ ق نېټې د ساختماني موادو د کان کیندنې کړنلاره او تعدیلات یې او د دې رهنمود څخه نور مغایر حکمونه ملغاء ګڼل کیږي.

وکتل شو!
د ساختماني موادو د کان کیندنې لاربسود منظور دی.

۱۴۴۷/۲/۲۶